مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

خالق رشید ۲۰۱۹/۰۹/۰۱

# بیا سپـــــــــــي،

## بیا جنـــــــــــګونه!! ...؟

### لنډه کیسه

بیګا می ګډوډ خوبونه لیدل ، یوځل مې خوب لیده چې زه په دوبۍ کې اویاهم په کوم بل ځای کې یم، یوڅوک د یوه تابوت سرته ناست دی ، خلک یي لکه مداري، پرځان راټول کړي چې په شته تابوت کې دمړي مخ ور وښیی، خو ځان په یوه او بله غولوي اونه غواړي چې څوک دهغه مخ وګوري ... پرده راټول شوي خلک ټول فکرکوي ، نه دا چې،د دوی کوم خپلوان په دې کې وي، خوډیربیا وایي نه، کوم بل ناویلی راز به وي... خلک چې هرڅومره ټینګارکوي، دتابوت څنګ ته ناست یارهمداورته وایي :

ـ زه پوهیږم ... ترڅویی زه در ونه ښیم تاسو یي نه شئ لیدای ... هو که زه دا درته خلاص هم کړم ، تاسې هغه نه شئ لیدای ... چغې مه وهئ ... بس څه چې زه وایم هغه منئ او له ما پرته نورڅه ته مه ګورئ ... اومه یې اورئ ، زه یم چې دنیا په هرڅه پوهیږم ... په هرڅه ... ځکه چې زه په دنیا کې ...

له همدغه درانه خوب سره وارخطا را ویښ شوم، پام مې شوچې دهندوستان په یوه روغتون کې یم اود ناروغانو له آهونواو زګیرویو، خرهار اوسرپهار پرته نورڅه نه اورم او نه راته ښکاري... یوساعت مې لاس په سرونیول، ماما رایاد شو، دهغه زوی را یاد شو... زما دا یاد نه و بلا وه، چې موبل مې شرنګ وهل، ورته ومې کتل چې دماما د مشرې لورزنګ دی ، زرمې د بلې پرځای یو اوږد هـــــــلو ورته ووایه ... خوهغې پرته له مقدمې وارد واره ځواب راکړ :

ـ هلو ملو پرېږده ، غږونه اورې ، غږونه ؟ واوره ... واوره !! ...

غږونو ته مې غوږونه څک کړل، ورته ځیرشوم، دانسانانو او سپیوغږونه مې غبرګ په یوه وارترغوږو تیرشول،بل ډول غږونه دخلکو غږونه، زارۍ او :

ـ دخدای له پاره ... دخدای قهر دې دربانديې نازل شي ... اخ ویې خوړم ... اخ دهغه لاس یې وخوړ... دهغه تور سپي له سترګوډاریږم ... څوک شته ، څوک زموږ غږونه اورئ ؟

همداسې د خلکو د فریادونو له منځه د سپیو دربۍ او غړمبا هم په ګرمئ سره را خته ... داسې چې تا به فکرکاوه... دانس اوجنس د له منځه وړلو له پاره دوی ګمارل شوي او ژمنه یي کړې چې انساني نوغی باید د خدای دځمکې پرسر پاتې نه شي ...د مامالور کمره هم راته چالانه کړه : سپیو بده ورځ جوړه کړې وه، په خپلو تورو، سپینو، سرو ، شنو رنګونو او وحشتناکو غپاوو او غړمباوو کې یې ځانونه له خپل ټول وحشت سره هرې خواته ښودل ... اوداهغه څه وو چې اوس دماما لوردخپل موبل د کامرې له لارې په ژوندۍ بڼه را ښودل ...

زرمې دماما پرلورغږ وکړ :

ـ دا ولې ؟ خبره څه ده ؟

هغې هم ژړل خبرې یې ترخولې نه راوتې پرته له یوه ټکي :

ـ نه پوهیږم خپله یې درګوره ...

خو زر یې راته کړه چې دماما د زوی نازولي سپي وړي شوو، په کلي کې یې یوڅوک هم بې داړلو نه دي پریښې ... ټول غم له همدغو امریکایی نازولو سپو را پیداشوی دی ...



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينگه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

له ځايه را پورته شوم ، د روغتون دکوټې له کړکي مي يوې اوبلي خوا ته وکتل، ارامه آرامي وه ، تياره ، زړه مي نرۍ نرۍ ځيريکي وهلې، دتياري زړه ته مي په ناروغو سترګو کتل، خو څه مي بياهم نه ترسترګو کيدل، لږ شيبه وروسته مي دماما زوی ، ته هغه چي تل به وطن ته هم له خپلو سپيوسره را روان وو ، زموږ د کاکوجان اکا پروينا تار ورتيرکړ، له ډيره خنده مي دهغه د درانه غږ پرځان يونرۍ غږ ترغوږ شو :

ـ ته څوک يې ؟

زرمي ځواب ورکړ :

-شهاب الدين له هندوستانه ...

نورمي دخپل غږ ځواب وانه ورید ، تليفون يي غوڅ شو، ماهم بيرته سر په بالښت کيښود، موبايل مي هم څنګ ته کښود، غوښتل مي چي ويده شم ، چي دماما لورشمير بيا دموبل پرپرده را و ځرکيده، موبل مي غوږ ته کړ :

ـ وي ليدل ، وادي وريدل ؟

ـ هو، ومي ليدل ، ومي وريدل ، خو زر راته ووايه چي خبره څه ده ؟

هغي په لنډوکي راته وکړه :

ـ دماما زوی بيا له امريکا راغلی ، بيا يي خپل سپی ورسره راوستي ، دی يي خپله ډاړلی په روغتون کي پروت دی ، هيڅوک سپيوته ورنژدې کيدای نه شي ... ټول کليوال يې داړلی ، دده له ډاره يي څوک وژلای هم نه شي،ځکه چي دا خو امريکايی هغه دی...اوامريکايي سپي خو نن سبا د انسانانوپه بيه... ؟

زه پوه شوم چي خبره څه ده، دماما زوی خو هماغه څوک و چي اوس به زموږ ټولو کليوالو دده له توسنه ان ماما ته هم ښيراوې کولې :

ـ دماما دې ګورپه لمبوکي شي ، په دې د سپي په زوې ... خدای دې د ماما ځای جهنم کړي ... الله ماما، د دنيا او آخرت شرمنده دې وې په دې زوې .... له سپيو سره ... !؟

په همدغه سوچ کي را باندې سهارشو، لمونځ مي دخپل کټ څنګ ته وکړ، پلارمي چي له ماسره بدرګه و، له لمانځه سره سم را ورسيد، نن په روغتون کي زما وروستی شپه وه ، ډاکترانو را ته ويلي وو چي نورکه دخدای رضا وه هرڅه سم دي، کولای شئ بيرته ولاړشئ ، له لمرختو سره سم مي له پلارسره يوځای ځان دهوټل کوټي ته راورساوه ، تلويزون چالان و، پرپرده يي ترخبرونو دجنازو انځورونه ډيروو، ما مي پلار ته مخ ور واړاوه ... هغه پوه شوچي زه غواړم دده له خولي يوڅه مخکي ترديِ زه خپل بيګانی خوب او له هغه وروسته حال ورته ووايم واورم :

ـ نوره خبره تراوريدو اوليدو تيره ده ... ښه خبره به داوي چي موږ ځانونه ړانده اوکاڼه کړو، ځکه چي نه به څه وينو او نه به يي اورو... بيا سپی ، بيا جنګونه، راغاړوځي، دماما زوی چي له امريکا راغلی ما ورته وويل چي سپي له ځانه ليری کوه، خو هغه ،هغه مهال ونه منله ... پرې وياړل به يي ... ترهرچا اوهرڅه هغه پرګران وو، ښه شو چي خپل يې له نورو سره يو ځای وخوړ... نوره نوخبره لاړه ډېدوره شوه ... ما به ورته ويل چي په سپيو مانازيږه،سپی دهيچا نه وي، هغوی خاوند نه لري، هغوی يوازې پرهغه چا پسي ځي او هغوی ته وفاداروي چي پړی يې په لاس کي وي ...

ما ته نورد ويلو څه پاتي نه وو، د پلار سترګو ته مي کتل ... دهغه دسترګو دکاتوپه تاو راتاو کي يوازې يوه جمله را ته ښکاريده اوبس، چي :

## بيا سپــــــــــي ، بيا جنـــــــــــــــــــــګونه !! ؟

نوی ډيلی

د شل نولسم کال د اګست ۳۰



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de

يادونه: دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولــئ